مورچل

دوولسم کال، دریمه، پرلپسې ۱۱۵مه کڼه،
جمادی الثانیة۱۴۳۹هـ ق مارچ۲۰۱۸م

په ملکي وژنو
حکومت نه شي تېښتېدلای!

کلیسا په مدرسې بریدوکړ!!
د طالبانو اوربند او خونړۍ پایلې

د کارمل له ختوا
د نیکولیسن تر دیني غونډې!

د کندز فاجعه...؟

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

دوولسم کال دریمه، پرلپسې ۱۱۵مه ګڼه، جمادی الثانیة ۱۴۳۹هق مارچ ۲۰۱۸م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	د کارمل له فتوا د نیکولیسن تر دیني غونډې	۲
۳	کلیسا په مدرسې برید وکړ!!	۵
۴	د کندز فاجعه	۷
۵	د طالبانو اوربند او خونړۍ پایلې	۱۰
۶	ظالمه! ولې؟ او دا په کوم جرم؟	۱۴
۷	دوهم مفکر، که دوهم پې رحمه قاتل	۲۰
۸	د اسلام غزوات او سرایا	۲۲
۹	رواني جګړه	۲۷
۱۰	جنګي جنایتونه (مارچ)	۳۰
۱۱	د مورچل وړمې	۳۴
۱۲	د ۲۰۱۸م کال د مارچ میاشتې جهادي خبرونه	۳۶

د امتیاز خاوند:

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر:

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی:

حسن خپل | ایوب صافی
حسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مسافر | حافظ سعید

تخنیکي چارې:

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

په ملکي وژنو حکومت نه شي ټينګېدلای!

امریکایان او دکابل اداره یې په دې وروستیو کې دهغې ناکامې تجربې په تکرار لاس پورې کړی چې په اتیایمه لسیزه روسانو او دهغوی لاسپوڅو کمونستانو عملي کړې وه؛ شورویانو چې ونه شو کولای په لس کاله کې افغان مجاهد مقاومت وځپي، نو په وروستیو کې چې په تېښته وو، په یومخیز ډول یې په عام وژنه لاس پورې کړ، له یوې مخې به یې کلي بمبارول، ښځې، ماشومان، سپین ږیري او ځاروي به یې وژل... خو پایله یې بیا هم د دوی ماته او دافغان مجاهد ولس دجهاد بریا شوه.

په ورته ډول په دې وروستیو کې امریکایانو او دهغوی لاسپوڅو زمونږ په ګران هیواد کې په عام وژنو لاس پورې کړی که څه هم له دې دمخه به یې هم صرفه نه وي کړې، خو داځل یې په جار سره وویل چې کورونه په ننبه کړئ! او دټولو بشري نورمونو په خلاف دټرمپ په ستراتیژي کې دعام وژنو اعلان کیږي.

که امریکایان او افغان بګیلان یې په دې فکر دي (لکه روسان چې وو) چې په دې ډول به خپلو موخو او اهدافو ته ورسیږو او دخپلواکۍ مقاومت به وځپو، نو داځکه نه شي کېدای چې اسلامي نهضتونه په ځپلو او ټکولو نه ختمیږي بلکې لاپسې ټینګیږي او دشورویانو دورته وحشتونو نتیجه یې مخته پرته ده.

ډېرې کارپوهانو دغه بشري جنایتونه ترسره کول ددښمن وارخطایي او وروستۍ هڅې بللې، چې نه شي کولای په دې ډول دحکومت پنبې ټینګې کړي، بلکې دایې دزوال پیلامه ګڼلې چې ولسي خلک به له حکومته نوره هم فاصله پیدا کړي او مقاومت ته به تقویت ور وبښي.

دافغانستان اسلامي امارت په خپل وار تربل هرچا زیات دملکي وژنو دمخنیوي هڅې کړې او په دې لړکې یې د (ملکي تلفاتو دمخنیوي) مستقل کمیسیون رامنځته کړی، دغه راز وخت په وخت دمشرتابه له خوا مجاهدینوته دملکي تلفاتو دمخنیوي هدایات ورکول کیږي، ولې ډېر دتأسف ځای دی چې دښبنې نړیوال سازمان لا تراوسه هم دکابل اداري او امریکایانو دوروستیو بشري جنایتونو په ترسره کولو پټه خوله دي، حتی چې په خپل کلني راپور کې هم دغه ډول ښکاره جرمونه ترډېره له پامه غورځولي وي.

د کارمل له فتوىٰ

د نیکولیسن تردیني غوندې

خالد افغان زوی

دا څه موده کیږي، په رسنیو کې په اندونیزیا کې د دیني عالمانو د غونډې جوړیدلو خبرې اوریدل کیږي. خبره له هغه وخته راپیل شوه کله چې څه موده وړاندې د اندونیزیا ولسمشر کابل ته په سفر راغی او او له اشرف غني او امریکایي چارواکو سره یې ولیدل. له هغه وروسته رسنی وایي چې په اندونیزیا کې به د اسلامي نړۍ د عالمانو یوه داسې غونډه جوړه شي چې په افغانستان کې د امریکا پر ضد روان جهاد په خلاف به شرعي فتوی صادره کړي.

که څه هم د اندونیزیا غونډه اسلامي امارت د یوه مدللې او قانع کوونکې اعلامیې په صادرولو سره له چینلج سره مخ کړې او د اسلامي نړۍ ډیر عالمان یې د دې غونډې په ماهیت پوه کړي چې اوس په مسلسل تاخیر سربیره د دې غونډې د یومخ معطل کیدو احتمال هم رامنځته شوی دی، خکه چې د اسلامي نړۍ نږدې ټولو حقیقي علماء کرامو تري مخ ګرځولی او له ورتګ څخه یې انکار کړی، خو بیا هم دا چې دا غونډه د دیني علماوو او پوهانو په عنوان جوړیږي شاید د خینو لپاره د سوال او اندیښنې ځای وي او د غونډې لخوا د جهاد ضد فتوی صدور به د جهاد د حقانیت په اړه شک پاروونکي ګڼي.

اما حقیقت دا دی چې دغسې تش په نوم دیني غونډې کوم واقعي دیني ماهیت نلري، بلکې تنها و تنها د سترو غاصبو قدرتونو د هغو

استخباراتي پلانونو برخې دي چې غواړي اسلامي خوځښتونه له مختلفو جهاتو تر فشار لاندې ونيسي- او د مبارزې د حقانيت په اړه يې شکونه خپاره کړي.

د اندونيزيا د غونډې په اړه که څه هم له پيل نه شکونه موجود وو اما اصلي ماهيت يې د تيرې مارچ مياشتې په ۱۸ مه نيټه امريکايي جنرال نيکولسن د يوه خبري کانفرانس په مهال روښانه کړ. په افغانستان کې د امريکايي قواوو مشر جنرال نيکولسن په کابل کې د يوې خبري غونډې په مهال رسنيو ته وويل چې امريکا پلان لري په را روان کال کې په طالبان مختلف فشارونه وارد کړي. نوموړي زياته کړه موږ غواړو په طالبانو پوځي، سياسي او حتى مذهبي فشارونه راووړ تر څو له جنګه لاس واخلي، نيکولسن د مذهبي فشار يوه نمونه د اندونيزيا غونډه وبلله او څرګنده يې کړه چې په دې غونډه کې به د طالبانو په ضد فتوى صادره شي او د هغوى د مبارزې مشروعيت به له ديني اړخه چيلنج کړي. د نيکولسن له دې خبرو په بشپړه توګه ثابته شوه چې اصلا دديني عالمانو په نوم دغسې غونډې او مندې چې کله په جده او که په اندونيزيا کې منعقدې کيږي، له لويه سره امريکايي پلانونه دي چې غواړي خپلو اشغالګرانه هڅو ته ترې مشروعيت ترلاسه کړي.

خو پوښتنه دا ده چې آيا امريکايان به وتوانيږي د داسې غونډې په تدوير سره د روان مقدس جهاد مشروعيت چيلنج کړي؟؟ د دې پوښتنې د ځواب لپاره ښه ده چې څو لسيزې شاته لاړ شو او د يوې پخوانۍ تجربې يادونه وکړو.

همدا اوس زما په وړاندې د ببرک کارمل د کمونيست رژيم د همداسې يوې غونډې د ويناوو او فتواوو ټولګه پرته ده چې د شوروي اشغال د اوج په کلونو ۱۳۶۲ هـ ش کال کې په کابل کې جوړه شوې ده او د کمونيست رژيم په مشروعيت او د يرغل په مهال د هغه وخت د سرتاسري جهاد په بغاوت ثابتولو يې مفصل دلائل ويلي دي.

له دغې رسالې څخه ښکاري چې هغه وخت هم کله چې په شوروي يرغلګرو او داخلي کمونيست رژيم باندې د جهادي حملو فشار زيات شو، نو بيرته يې هغه اسلام ته مخ وګرځاوه چې تر دې پخوا يې د بيخ ايستلو قطعي اراده کړې وه. کمونيستانو د ديانت تظاهر شروع کړ او د ديني عالمانو د کانفرانسونو ، غونډو او شرعي فتواګانو د صدور لړۍ يې پيل کړه چې دغه چارې يې د شؤون اسلامي په نامه د يوې ځانګړې حکومتي ادارې لخوا پر مخ وړل کيدلې.

د کارملي علماء دغه غونډه چې نه یوازې د افغانستان کمونیستو تش په نوم عالمانو په کې شرکت کړی بلکې د شمالي، یمن، قزاقستان، هند، قفقاز او ځینو نورو کمونیسي-هیوادونو درباري عالمانو هم په کې شرکت کړی او په دې باندې یې فتوی صادره کړې چې په افغانستان کې د شوروی یرغل په پایله کې رامنځته شوی د ببرک کارمل نظام بشپړ اسلامي نظام دی او په وړاندې یې مقاومت له شرعي اړخه بغاوت بلل کیږي.

د کارملي فتوی په یوه برخه کې راغلي:
(ما علماء این مجلس به صراحت و تاکید اعلام میداریم که: اهداف انقلاب ملی و دموکراتیک ثور در کشور ما با موازین و اصول دین مبین اسلام مطابقت کامل دارد و در راه تحکیم بنیاد عدالت اجتماعی که خواست برحق خداوند و بندگان حق پرست اوست، پیکار برحق و رهنمایی و جهاد میکند. این است استنتاج ما و این است فتوای شرعی اسلامی ما.)

خو د شورویانو او کارملي رژیم دغه فتوی او د علماوو په عنوان غونډې او مجالس که څه هم هغه وخت به یې رسنیزه انګازه درلوده و، خو په نهایه کې په دې ونه توانیدل چې د ثور انقلاب او شوروي یرغل ته اسلامي رنګ ورکړي او بالمقابل د مسلمان اولس برحق جهاد بغاوت ثابت کړي. زمونږ اولس په دغسې فتواګانو او د کمونیست رژیم د شوڅن اسلامي په درامو ونه غولید. خپل جهاد ته یې دوام ورکړ تر څو یې کمونیست حاکمیت راوپرځاوه.

په اوس وخت کې چې امریکایي جنرال نیکولسن په طالبانو د دیني فشار واردولو په مقصد یو ځل بیا ددغسې غونډو او د علماء سوء د مجالسو اراده لري. فکر نه کیږي چې مطلوبه نتیجه به ترلاسه کړي.زمونږ ملت تر پخوا ډیر ویښ، دراک او هوښیار دی، د یرغل په وړاندې جهاد یې د کومې جذباتي پریکړې له مخې نه بلکې په شعوري ډول د دیني او ملي ارزښتونو څخه د دفاع په موخه پیل کړی دی.

بله دا چې زمونږ د اولس رهبري دبرحق علماء کرامو په لاس کې ده، او علماء کرامو همیشه په ټولو اساسي موضوعاتو داولس اذهان رونوي او د مسائلو په ماهیت یې پوه کوي. اوسنی جهاد چې د امریکایي ظالمانه یرغل په مقابل کې پیل شوی دی او دا دی اوولس کاله یې پوره کیدونکي دي، یوازې هغه وخت پای ته رسیدلی شي چې راغلي یرغل په بیرته زمونږ له هیواد څخه ووځي. له دې نه بغیر فکر نه کیږي چې نیکولسن دې د جعلي او تزویري فتواګانو په زور دغه جګړه وګټي.

کلیسا په مدرسې برید وکړ!!

■ خبیراحمدم

تیره اونۍ امریکایي قومندان جنرال جوزویف افغانستان ته د۱۰۰۰ امریکایي عسکرو د راتګ په غونډه کې ووئیل چې سږکال به جګړه دتیرو کلونو په نسبت بدله اوتغیروي اوده په خبره امریکابه دکابل روزل شوي اردوته ووایي چې دطالبانو په مقابل کې شدیده جګړه پرمخ بوزي

دکندوزولایت دارچی ولسوالی په هاشمیه مدرسه هوایی بریدچې په ترڅ کې یې ۱۰۰ تنه دقرانکریم حافظان اوداحادیثوفارغین شهیدان او۲۰۰ تنه یې ټپیان کړل په ډومبیوشیبوکې دکابل مزدورژیم هڅه کوله چې خپله اوړه له دغه ترسره کړي جنایت څخه خالي کړي اوددغه ستري دیني دښمنی پړه په امریکایي قواوو وراچوي ؛ خوڅوساعته ورسته حلقه بګوشو غلامانو اعلان وکړچې نوموړی برید ددوئ بادارانونه بلکې دملي دفاع وزارت چورلکوترسره کړي !!

دکابل رژیم دغوامریکایي اردلیانووئیل چې په نوموړي دستاربندي کې دطالبانو یوشمیر مشرانو برخه درلوده نوځکه یې جلسه اومدرسه تربریدلاندي ونیوله.

خوله پیښې ورسته کوم شواهداوژوندي صحني چې مخي ته راغلي اوجزیات یې هرچاته لکه لمرښکاره شول دشهیدانواوټپیانوپه منځ کې یوه طالب مشراوقومندان هم چاثابت نشوکړلی چې هلته دې راغلی یا موجودو، نوالله تعالی داسلام اوافغانستان دغلیمانوټول پوچ توجیهات اوتبلیغات یویورسوا اوافغان مجاهدولس ته یې په ډاګه کړه چې دامریکایانودغه غلامان څومره بې ضمیره اوپست خلک دي .

دافغانانو دپوښتني ځای همدغه دی چې که فرض کړل شي په دغه دستاربندی کې دطالبانویوشمیرمشران هم موجودوای آیا پر کلي ،جومات اومدرسې په دې پلمه اوپه دومره لویه کچه بمباری کوم منطق اومجوز بلل کیدای شي؟

آیا ددستاربندی په جلسه برید له ځان سره دا معنا اوتعبیر نه لري چې بریددامریکایانواوکابل رژیم دیوې پلان شوي نقشي اومشترکې طرحي له مخې ترسره شوی ؟ ،ځکه په ابتداکې داخلي ګوډاګیانوپړه دخارجیانوغاړي ته وړاچوله خوچې

کله امریکایانودجنایت نوعیت ته وکتل چې ممکن دافغانانوغبرګون ددوئ په وړاندې ډیرجدي ووسي اویادنړیوالوبشري بنسټونودملامتی هدف به وګرځي نوخپلوګوډاګیانوته یې امروکړچې له خپلې خبري واوړي اودبریدمسولیت په خپله غاړه واخلي

دیادي مدرسي منتظمینورسنیو ته وئیلي چې ددستاربندی له مراسمودری ورځي وړاندي یې دکندوز امنیه قومندانی په جریان کې اچولي وه اودفارغینو ټول نومونه یې ورته په لیکلي ډول سپارلی وو خوپه هغه سربیره یې هم ددستاربندي په مراسمو برید ترسره کړ.

دکرزي اداري دامنیت شورا مشر(سپنتا) په خپل ورستي چاپ شوي کتاب کې څوځایه دغسي- پیښو ته اشاره کړي چې کله به امریکایانو د افغانستان په کومي برخي کې لویه انساني تراژیدي رامنځته کړه اودهوایي بمباریوپه ترڅ کې به یې لسګونه بې دفاع افغانان په قتل ورسول نه داچې امریکایانو به پري سکوت کاوه بلکې کرزي ته به یې هم په کلکه وئیل چې په پیښه به هیڅ هم نه وایي حتی ددې اجازه یې هم نه ورکوله چې کرزی اویامونږ دې له قربانیانوسره خواخوږي وښیو اودتسلیت کوم پیغام خپورکړو.

له کله نه چې ټرامپ دافغانستان په اړه خپله قاتله ستراتیژي اعلان کړي دیوې احصایي له مخې یې په افغانستان کې ۵۰ جوماتونه اوهمدومره مدرسې دبمباریواوډرون بریدونوهدف ګرځولي ، خوتردې وړاندې داسې کومه پیښې مخې ته نه وه راغلي چې په یوه مدرسه اوجومات دې په داسې حال کې بریدترسره شي چې هلته دې خالصتا یوه مذهبي ناسته اوجلسه روانه وي اوداسلام دغه ازلي دښمنان دې سلګونه تنکي حافظان له تیغه تیرکړي.

دکندوز برید څخه داسې ښکاري چې اوس دکلیسا مربیان او دصلیبي جګړې لښکري غواړي نورپه خپله اصلي څیره کې رامخي ته شي اولدې ورسته داسلام اومسلمانانو هغه مقدس اماکن اودیني معابد مخامخ په نښه کړي چې کلیسا ترینه زیات خطر او بیم احساسوي.

خوکلیسا اوصلیبي لښکري دې پوه وي چې ددوئ له هرې داسې کړنې اوهڅې سره به دافغانانو دغچ اخیستلو جذبي نور لوړیږي اوارادي به لدي زیاتي فولادي کیږی

کلک باور لرو چې دکندوز دهاشمیه مدرسي دګلګون کفنه حافظانوپاکي وینې به اورومرو رنګ راوړي اوداسلام له ازلي اوابدي دښمنانو اودهغوئ له ایجنټانو څخه به تاریخي غچ اوانتقام اخلي

او دا خبره دې دصلیب اوکلیسا افغاني اربکیان او اردو هم نښه په زړه ومني چې سړ کال به دنوو پسرلنیو عملیاتو په ترڅ کې ددوئ دبشپړي تصفیی کال وي اوکه الله پاک ته منظوره وه دامریکا او صلیب جاسوسان به د ټولو هغو جنایتونو کفاره سړکال ورکوي چې دامریکایانو په غلامی کې یې دافغان ولس اواسلام په وړاندې ترسره کړي. ان شاالله تعالی

د کندز فاجعه...

ارمان

دهېواد په شمال ختيځ ولايت (کندز) دشت ارچي ولسوالۍ پټانو کلي کې دهاشميه ديني مدرسې دحافظانو او فاضلانو دستاربندۍ مراسمو په غونډه دصليبي يرغلګرو له لوري مخامخ يرغل اوبمبارد په ټول بشري تاريخ کې کم ساری لري.

دياديې مدرسې د دستاربندۍ او بخاري شريف دوروستي حديث اوريدوته چې په زرګونو مسلمانان راټول وو ،شيخ صاحب ايله د حديث درس پيل کړ ی و اودبخاري شريف د ستر علمي عظمت او د پای حديث په باب يې څو په شمار تمهيدې کليمې له خولې ايستلې وې ناڅاپه دغونډې دګډونوالو سترګې بره فضاء کې د امريکايې صليبيانو او دهغوی دملاتړو غلامانو پر دوه جنګي هليکوپټروخښې شوې ، دې سره ځينو خلکو يوخوا بل خوا مندې کړې دځنډ پرته له الوتکونه د زرګونو انسانانو په دې مجمع په بې دردۍ او قساوت سره دبمونو او مردکيو باران پيل شو.

په لومړيو بريدونو کې يې هغه کتارونه په نښه کړل په کومو کې چې دعظيم الشان قرآن له حفظ څخه نوي فارغان کيدونکي تنکي حافظان

او د لویې دورې فاضلان ناست وو په دې سره هر لورته د سرو وینو فوارې پورته شوې او دمعصومو انسانانو دغوښو ټوټې پورته اسمان ته والوتې، سپینې پګړۍ او سپین کالي په سروینو کې لت پت شول او د مظلومانه اهونو زیګروي پیل شول، ژاړه ګانې ،چیغې وسورې شوې بیا هم دظالم غلیم رحم نه رانغی او تر څه کم نیم ساعت یې پرلپسې پیرونه وکړل هرزنده سر چې په نظر ورته هغه یې تربرید لاندي نیو ، کله چې پوی شول چې نور څوک ژوندي پاتې نشول بیا الوتکې لاړې ، دسروینو ډک لښتې روان شول او تقریباً له دوه سوه زیات تنکي حافظان ، دلویې دورې فاضلان، استادان او عام خلک په شهادت ورسیدل او له درې سوه زیات ټپیان شول.

د سیمې څخه عیني شاهدانو رسنیوته وویل: دستاربندۍ په مراسمو کې لوی شمیر خلک شریک وو چې یو دم ناڅاپه دالوتکو غرهار او غږ خلک وډار کړل خو چا دا نه انګیرله چې دکابل رژیم به دومره داسلامه وتلی او ورسره قوي دښمنې لري چې آن په دومره لویه غونډه د بمونه له غورځولو هم ډډه نکوي !! لیکن خلک پوشول چې دکفارو دالوتکو هدف غونډه ده، لومړی یې د هم هغو تنکیو حافظانو کتار په نښه کړ چې په سرونو یې سپینې پګړلې وې او په لاسونو کې دعظیم الشان قرآن دحفظ بشپړولو اسناد وواودغونډې وروسته د خپلوانو او مشرانو سره یوځای دخپلو کورونو په لور روانیدل او بیرته کورونو کې خپل خپلوان یې دخوشالۍ په نیت راټول وو او شیبه په شیبه یې انتظار کاوه چې ځامن، ورونه، وریرونه او... به یې سپین پګړي په سرکورونو ته ور شي او ورته به په غاړو کې ګلان اچوي خو خبر نه ول چې زمونږ هېواد دیو داسې کافر او شیطان ځامنو له خوا اشغال شوی دی چې ور ته دعظیم الشان قرآن حافظان او ددینې علومو طالبان دزغملو وړندي او دحافظانو او فاضلانو په کورنیو یې خوشالې نه وه پیرزوه څکه یې د هغوی ځامن او... په جنازو کې سره لت پت ورولیږل دهغوی دپلرونو او میندو هوسونه یې ووژل دهغوی هیلې او ارزوګانې یې قتل کړې راځي چې ټول په ګډه ووایو چې : لعنت دي وي په اشرف غني ،دده په حکومت او په ملاټرو .....

رښتیا ! دا ډېر خورونکی او دردونکی حالت وي چې هغه معصوم تنکي طالبان چې بیرته کورنۍ یې سپینې پګړۍ په سر لیدوته په تمه ووظالمانو په وینو سره اوتوټې ور ولیږل،دالومړی پیښه نده چې ددیني مدرسو طالبان او شاګردان دامریکایانو له لوري ددغسي وحشیانه بریدونو هدف ګرځي بلکې له کله نه چې ملعون اشرف غني له امریکا سره امنیتي ټرون لاسلیک کړی او په خاصه توګه کله چې ملعون ټرمپ دجنوبي اسیا په اړه خپله جنګي تګلاره اعلان کړي

دهغه وخت راهيسې ديني مدار س دامريکايانو له لوري دپرلپسې بريدونونښه دي، ددی پيښې نه وړاندي په خوست،ميدان ښار په نرخ او فراه کې هم امريکايانوپه ديني مدرسو ورته بريدونه کړي او په لوی شمير کې حافظان طالبان او استادان يې شهيدان کړل، دکندز تازه غميزه او فاجعه هم هغه بدمرغه لړی ده چې امريکايان غواړي په دي توګه افغانستان کې دخپلو ناکاميو غچ له ديني کهول څخه واخلي ځکه هغوی پوهيږي چې افغانستان کې يواځې ديني مدارس او طالبان هغه قشر دی چې دامريکاوحشتونه ننګوي او هم يې په تيرو شپاړس کلو کې امريکايانو او دهغوی غلامانوته سرونه ټيټ نکړل

بله خبره دا ده چې دکوم شک پرته امريکا يو صليبي ځواک دی او ټول کړه وړه يې دصليب او کليسا دبري لپاره دي له امريکا څخه افغانستان ته هر امريکايې عسکر چې راځي ،په دي عقيده او روحيه رادرومي چې د مسلمانانو وژل او دهغوی وينې تويول هغه ثواب ګڼي او دعيسوي کليسا حکم او فرمان يې بولي په خاصه توګه هغه مسلمانان چې اسلامي زده کړې کوي يا اسلامي علوم تدريسوي دهغوی وژل او په شهادت رسول خو ورته ترټولو مهم هدف ښکاري.

دا کومه تصادفي پيښه نده بلکې له وړاندې طرحه اوپلان شوې هرچې داخبره ده چې بمبارد امريکايانو نه داخلي ګوډاګيانو کړی ، ټول يو صف دي امريکايې بادار دی او افغاني اردو يې ګوډاګيان دي چې په لويه کې ديوه هدف او مقصد لپاره کار کوي او ګوډاګيان هرڅه دامريکا په حکم او اشاره کوي او جوته ده چې امريکايې عسکر دمسلمانانو وژل خپل عقيدوي مسؤليت اوملي خدمت بولي هغوی له خپلو نوکرانو هم غواړي چې مسلمانان و ځوروي او وې ځپي

دکارپوهانو په نظر ددي برید موخه داوه چې په شمال کې دماضي په نسبت مجاهدين ښه فعال حضور لري او پراخې سيمې يې تر کنترول لاندي دی امريکايان په دې سره خلک ډاروي اووربانديخپل وحشت کينوي چې دمجاهدينو دملاتړنه لاس په سر شي

هو! دا خبره حتمي او يقيني ده چې نور دملت زغم ځواب ورکړی او ددي اړتيا حسوي چې ټول هېوادوال په يو غږ راپورته شي دامريکايانو او دهغوی دغلامانو په ضد دي په ټول هېواد کې ملي پاڅون پيل کړي ځکه نور په دي کې له چا سره شک ندی پاتې چې امريکايان د دوی ددين دښمنان دي، دقرآن دښمنان دي او د دوی دخاورې دښمنان دي په مقابل کې يې خاموشي جرم بولي او هوډ لري چې ورته داسې سبق ورکړي چې هغه به د دوی نسلونو ته هم تر پيړيو ياوي ....

دطالبانو اوربند

او خونړۍ پایلې

استاد سعود

د هیواد په لر اوبر کې غمځپلیو کورنیو په ځانګړې د فراه او کندوز د شهیدانو کورنیو، د هیواد مظلوم اومجاهد ولس، ته د یو افغان ولسي وګړي په توګه د تسلیت مراتب وړاندې کوم، خدای (ج) دي د دې سپیڅلو دینې عالمانو، د قرانکریم حافظانو، تنکیو ماشومانو او د دستاربندۍ د خوښې لمانځنې په چوپړ کې د ولسي وګړو شهادتونه د مؤمن ولس او ټول مسلمه امت د یوې ستري او تاریخي قربانۍ په توګه قبول کړي، کورنیو، مظلوم خو غیور ولس، د نړۍ په ګوټ ګوټ کې زمور په درد دردېدلیو ولسونو، علمي ټولنو او اشخاصو، سیاسي ګوندونو،لیکوالانو، سیاستوالو او... ته دي خدای (ج) د زړه صبر، ستر او پریمانه اجرونه ورپه برخه کړي.د دښمن له لوري په کندوز کې د بمبارۍ جسارت رښتیاهم چې په تاریخ کې یو داسي بشري ناورین دی چې زمور ولس او د مسلمه امت زړونو ته یې سترټکان ورکړ، خو له بلې خوایې له ګڼو لوریو داستجواب په ترڅ کې دښمن هم په خپلو پټو موخو وغږاوه، ټولې نړۍ ته یې بربنډ اورسواکړ، او د هغه په وړاندې یې نړیوال احساسات، کرکې او له قهره ډک غبرګونونه راوپارول.

داچې اشغالګر رسماً دغه برید ردوي او اجیره اداره یې بیارسماً مني چې مور کړی د

دې ښکاره نښه ده چې دوی له وړاندې لامالومات درلود چې د پګړۍ تړلو غونډه ده، او په پلان کې و چې دروند او بوږنونکی برید به پرې کوي او همدغه تنکې حافظان او ماشومان به پکې په نښه کوي، ترڅو د غیور ولس زړونه مات کړي.

دوي په دې هم باوري و چې له توندو غبرګونونو او رسواهۍ سره به یې مخ کړي نو یې د طالبانو مشران ونومول، خو د هغو د وژلو ویاړهیڅکله اشغالګر خپلو ګوډاګیانوته نه وربښي، او نه ګوډاګیان ترې هغه اجورې او مډالونه ګټلای شي کوم چې د طالب مشرانو په وژلو د اشغالګرو له لوري اېښودل شوې دي، همدارنګه دوی چې د ولس زړونه ماتول غوښتل او دا۱۷کاله د طالبانو او د هغوی د مشرانو په وژلو یې و نه کړای شول بیایې هم نشوای کولای او نه یې هغوی په نښه کولای شول.

له بلې خوا هسي هم اوس ټوله نړۍ مخالف او موافق ټول په دې یوه خوله دي چې قصداً مدرسه، د قران حافظان اوتنکې ماشومان په نښه شوي او په همدې اساس په ټوله نړۍ توند غبرګونونه وښودل شول، نو دکابل د ادارې له لوري باید له ولس څخه بښنه غوښتل شوې وای، که بیا هم کومې توجیه ته اړتیا وای نو یابه یې د مالوماتو ناسمي بللې وه یابه یې له کره هدف ویشتلو څخه اوښتون را اوښتون بللی و.خو داچې عیني شاهدان، عام خبریالان، دکلینیکونو اوشفاخانو کارکونکې، په خپله دولتي چارواکې او د دوه سرې ادارې له خوا لیږل شوي پلاوی هم دامني چې ټول ولسي-خلک او ماشومان دي، هیڅ مسلکې طالب پکې نه دی وژل شوی او دې واقعیت دنیا په سر اخیستې ده، بیاهم دښمن ټینګارکوي چې طالب مشران مو په نښه کړي او د ماشومانو د قتل عام لپاره نه منونکې توجیهات کوي مانا یې دا راځي چې همدغه مدرسه، حافظان او تنکې ماشومان موهدف و او خپل هدف مو په نښه کړی بیا یې هم تکرارو، لکه چې د اجرائیه ریاست غپاند او ځینې نورو بې ضمیرو له څرګندونو جوتیږي.

دښمن د سولي په نوم هلته او دلته منډې ووهلې، غونډې، پرلتونه او نمایشي-هڅې یې وکړې، ټول د سولي او د هغې د پایلو سرچپه شومو موخو لپاره و چې دوی له دې سپېڅلې آدرسه ځان ور رسول غوښتل، خو څه چې یې په واقع کې غوښتل ویې نه موندل او د څه چې یې وخت په وخت ښکارندویې کړې په ځلونو دروغ او دسیسه ختلي اوس په ټوله نړۍ رسوا او حیثیت یې له لاسه ورکړی دی.

وینو داځل چې طالبان او د کندوز ولسونه په اوربند هوکړي ته و رسیدل کومه چې د ریښتونې سولې له لومړنیو اړتیاوڅخه او سولې ته د لاري اوارولو په زړه پوري ګام دی، دښمن د طالبانو د رهبري شورا په نوم د اشغال او اشغالګرو واقعې اهداف دینې مدرسې، قرآنکریم د حافظانو او د کندوز د ولس د تنکیو اولادونو په بمبارولو یاد اوربند مات کړ او عملاً یې وښوده چې دوی په یوه ولایت کې هم سوله نه غواړي که څه هم د ولس په هڅو رامنځ ته کیږي، د ټول هیواد سوله خو پریږده.

د رهبري شوری غړي چې دوی یې یادوي څه چې د لاري له یو ساتونکي عادي مسلکي طالب پرته (چې اوس هم ژوندی دی) هیڅوک نه و، خو چې د اشغال او استعمارپایښت په سپین سترګې او بې شرمۍ دی، نو ځکه د کابل ګډوله اداره د دې په ځای چې له ولس څخه وښنه وغواړي او د بیا لپاره د داسې منحوس حرکت دمخنوي ژمنه وکړي د دومره لوی ناورین لپاره هم په ډیره بې شرمۍ نه منونکې توجیهات کوي چې د هیواد له دننه تربلجیمه پورې یې داخلي ملحدین ګمارلي او فکر کوي چې په ټوله نړۍ کې خپاره شوي حقائق به بیرته راټول او په ځای به یې د نړیوالوسترګو ته خاوري ور واچوي.

د یو تریخ حقیقت په توګه له دې هم انکار نشوکولای چې زمور هیواد وال زیاتر د غربي رواني جګړې شکار او تر اغیزیې لاندې دي، ځینې یې د الحاد ترپولي ورسیدل، ځینې د ډول ډول شکوکو او شبهاتو شکاردي، اوځینې نوریې د خپلو جذباتو په کنترول کې پاتې راغلي چې یواځې ریښتونې عالمان، اسلام پال پوهمین او لیکوالان یې د هغوی په ذهن سازۍ ژغورلای او سالم لورې ته لارښوونه کولای شي.

ویل کیږي د کندوز ولسونه په لومړیو کې په جذباتو راغلل غوښتل یې مکتبونه، لېسې، او پوهنتونونه ونړوي، خو حقیقت دا دی چې که د مدرسې، حافظانو اوتنکیو ماشومانو په شهیدیدلو سره مو نیمه سرمایه له لاسه ورکړه لله الحمد چې پاتې نیمه په مکتبونو، لیسو او پوهنتونونو کې په زدکړو بوخت دي، که مور هغه وران کړو نو د یادو شهیدانو ترڅنګ به یو ناورین داوي چې له پاتې سرمایې به هم ځان بې برخې کړو، زیان به د غبرګو زمور او ګټه به د دواړو د دښمن وي.

له بل لوري اسلامي امارت چې مخالفین یې طالبان نوموي له پیله یو ملي پاڅون و او تر اوسه لا ملي بڼه لري، د دې ملي پاڅون د غښتلتیاراز همدغه د هیواد علماء، دیني طالبان او عصري پوهمینه

طبقه ده چې د هغه زياته برخه جوړوي، هيلي يې په دوی پوري غوټه دي، د هغه په اړه د اذهانو روښانتيا د همدوی دنده ده، او همدوی د ملت د راتلونکې سرمايه او د يو ريښتونې خپلواک ملي حکومت واکمنان دي، نو ځکه د دښمن له لوري هدف ګرځېدلي او ملت هم په خپل دغه نوي نسل باندي خفه کيږي، خو داسي بالکل نه ده چې ګواکې دغه ملي پاڅون يواځې د مدرسو طالبان او د قرآن حافظان دي، دا د دښمن يوه دسيسه ده چې ډير شوم اهداف يې تر ې لاندې نغښتي دي.

مور د يوې شې ورځې په هيله په تير۱۷کاله کې ډير څه ګاللي، د کندوز غميزه مو هم وزغمله او ورسره مو ټولي هيلي هم له خاوروسره برابري شوې، نو له نړيوالوولسونو، علمي ټولنو، ليکوالانو، سياسي ګوندونو، سياستوالو او...که هرڅوک دي چې زمور د مظلوميت غږ يې راسره بدرګه کړ مننه کوو، او د هغوی په ګډون د کندوز په غميزه دردېدلې غيور او مجاهد ولس، کورنيو علمي ټولنو، سياستوالو، ليکوالانو، سياسي ګوندونو او... باندې غږ کوو چې اوس مو د اشغالګرو او د هغوی د مستعملې ګوډاګي اداري واقعي خيره شې بربنډه وليده، د هغو په وړاندې چې مو کوم غږ پورته کړی ويده ولسونه او اشخاص پرې راويښ کړئ، د کابل او هرات د تاريخي پاڅونونو په څير د سر په قربانيو په ټول هيواد کې د يوځپاند پاڅون بڼه ورکړئ، دښمن ته د هغه په کور کې څه ويل بې ګټې دي دکابل اداري ته استعفاوي وړاندې کړئ او د ولس څنګ ته راشئ، ترهغه دوام ورکړئ ترڅو چې مو غوښتنې نه وي منل شوې او د اشغالګرو وتل يقيني شوي نه وي، په دې لاره کې د سر او مال ډيري قربانۍ هم ترهغو ليږې دي چې په داسي غميزو کې په مور اوړي او مور ورته غاړي ښودلو ته اړ کيږو.

پام هدف ته له پوره رسېدنې مخکې خپل موقف تغير نه کړئ چې خدای (ج) مکړه پايلې به يې هم سرچپه او له دې زياتې ناوړه وي، د دښمن د دسيسو ښکار نه شئ، دښمن مو د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د مسلمانانو ترمنځ منفور او له هرلوري رټل شوی، اسلامي امارت شه څپلی، له ماتې سره يې مخ کړی او لا نور يې هم هرډول قواوي ترې راتاو او هغه يې کلابند کړی، لله الحمد تاسو يواځې او خالي لاس نه ياست ليري نه ده چې ان شاءالله ستاسو غږ او قربانۍ به يو انقلاب رامنځته کوي، داسي انقلاب چې هم به مو درد دوا کوي او هم به انتقام وي. وماذلک علی الله بعزيز.

ظالمه! ولې؟ او دا په کوم جرم؟

حسن زوی

نن نه یوائې پر دین مین اوبا احساسه افغان ولس بلکې ټول مسلمان ملت سخت دردمند او ډېر غمجن دی ؛ زړونه خفه دي ؛ څېرې مړاوې دي اوپرمخونو اوښکې روانې دي خو په اوښکوتویولوزړونه ،نه سپکېږي او نه يې درد کمېږي ځکه چې غم دومره لوی او درد دومره جور دی چې داوښکوپرځای له سترګو په وینوتویولوهم دکمېدو او هېرولو ندی.

سینوکې دانتقام اخستلو اورونه بل دي اوترهغې نه سړېږي ترڅوچې له وحشي اوظالم دښمن نه انتقام اخستل شوی اوپرې ملاماتونکی ګوزار نه وي شوی.

هو ! دکندز اوسنی غمیزه ډېره ستره غمیزه ده ؛ قرآن اوحافظان يې دنبوي علوموحاملین اومخې ته يې پراته داحادیثو کتابونه غلبیل شول ؛ دښمن په خپل زعم دممبر او محراب نه دحق اواز زندی کولو ستراقدام کړی ؛ ددیني علومودساتنې ، دفاع او اشاعت مرکز په ننبه شوی ؛ اوپه لوی شمېر کې داسلام په بڼه کې نوي غوړېدلي ګلان په ډېرې رحمانه ډول رژېدلي دي.

دا د ډېرې سترې خوښۍ مراسم وو ؛ دکلونومسلسلو کوښښونوخوړه اوخوراستره پایله پکې رامخې ته کېدله اوترلاسه کېدله ؛ دمدرسې په ګلبڼ کې کښنول شوي کوچني نیالګي رسېدلي اومېوو ورکولوته چمتو وو ؛ نن دااعلان دهمدې ګلبڼ هغه مالیار کاوه کوم چې دزړه په وینو دا نیالګي خړوب کړي اوتر دې حده را رسولي وو.

دخپلو اسلافو د دود دستورسره سم نن دسترو استاذانو اومشایخولهلورې خپلو

شاګردانوته دعزت ، عظمت اوامانت دستارپدې هیله په سر اینبودل کېدلو چې دوالدینو اونورو اقاربولپاره به د دارینودسعادت او دټولنې لپاره دخدمت مصدر ګرځي ؛ دخوښۍ په همدې مراسمو کې دشرکت لپاره دهرفارغېدونکي حافظ اوعالم خپلوان جلسې ته راغلي وو اوپه هرکورکې دمسلمانو مېرمنویوه لویه اجتماع وه اوټولې پدې انتظار وې چې دعزت اوعظمت ددستارونه په سر به پرې حافظان اوعالمان ورننوځي او دوئ به پرې ګلونه اوخوارې شیندي خو وحشي دښمن داستره خوښي په ستر غم بدله کړه اودخپلوحافظانو اوعالمانو په تمه راټولوشویو مېرمنو ته ددې عالمانو او حافظانو جنازې ورنتوتې.

هغه جلسه ګاه چې څو لمحې وړاندې دښکلو عالمانو اوحافظانو شتون مزینه کړی وه څولمحې پس ترې توري لوخړې پورته شوې ؛ هر دېوال اوهره پرده په سرو وینو ککړه وه ؛ هرلورته دانسانانو غوڅ شوي اندامونه زګېروي او آهونه وو اوهیڅوک نه پوهېدل چې څه وشول او ولې ؟

دمحترمولوستوالو په علم کې به وي چې څه موده وړاندې د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ د عمر خیلو په کلي کې پر یوې دیني مدرسې وحشي بهرنو یرغلګرو او د ملي اردو په نوم د هغوئ تالي څټو د شپې چاپه وهلی وه چې د مدرسې یو استاذ او شل تنه تنکي د لسو - پنځلسو کلو ترمنځ عمر لرونکي د قرآن کریم دحفظ طالبان یې په ډیر وحشت سره شهیدان کړي وو ، عیني شاهدان وایې چې دوئ یې یو دېوال ته په کتار کېنول اوبیایې هر یو په ډیرې بې رحمۍ په سر وویشتلو.

او له هغې لږوړاندې دخوست ولایت نادرشاه کوټ ولسوالۍ کې هم دغاصبو امریکایانو لخوا پر یوې دیني مدرسې یرغل کې دمدرسې دیو استاد په ګډون ۱۷ داسلامي علومو تنکي زده کوونکي (حافظان) په شهادت رسېدلي وو.

ټرمپ چې دبش ریښتونی ځای ناستی او داسلام او مسلمانانو سره په دښمنۍ اوتعصب کې ترهغه هم وړاندې دی دده له لورې دافغانستان لپاره دنوې ستراتېژۍ درامنځته کېدو دخبروسره سم همدا فکرکېدلو چې دلته به درندو زیاتو بمبارېو اوپر کورونو دشپنو چاپود وحشت نه ډکه یوه خونخواره لړۍ پیل کېږي؛ ولسي وګړي اوخصوصاً دیني عالمان ،ددیني علومو زدکونکي ،دقرآن حافظان ، جوماتونه ، مدرسې اودیني مراکز به زیات په نښه کېږي اود همدې رندو بمبارېو اوعملیاتو په ترڅ کې غریب اومظلوم ولس ته دښو ډېرومالي اوځاني تاوانونو اړولولارې به

امریکا دمظلوم ولس نه دخپل شرمېدلي شکست اوستروځاني اومالي تلفاتو انتقام اخلي.

څنګه چې فکر کېدلو همدا سې وشوه اودادی ددې نوې ستراتیژۍ له اعلان وروسته کورنولاسپوځواواشغالګرو بهرنو ځواکونو چې اوس ورته دګډو ځواکونو اصطلاح کارول کېږي دهېواد په ټولوبرخو کې دخلکو پرکورونو اودیني مدرسو بمبارياواوچاپوته سخت زور ورکړی ؛ ټول افغانان داخبره تائیدوي چې پرکورونواومدرسواوسني هوايې اوځمکني بریدونه ډېر وحشتناک دي اوداسې ښکاري چې دخاصو اهدافو اومقاصدودحصول په موخه پکې عمداً دتشدد عنصر دتېروکلونوپه پرتله دومره ورزیات کړای شوی چې ټول خلک یې دامریکایې یرغل دړومبني کال دوحشت اوتشدداعاده بولي اوډېرخو داوایي چې داوسني وحشت ساری په تېرو کلونو کې نه لیدل کېږي ؛ اوس دچاپو پرمهال دتېرپه څېر ځوانان ژوندي نه بوتلل کېږي بلکې ځای په ځای وژل کېږي اوددې ترځنګ دپخواپه پرتله اوس ګوډاګی اردو دافغانانو سره په دښمنۍ ظلم او وحشت کې له بهرنویرغلګرونه زیات اخلاص ښکاره کوي او اوس ولس ته زیات تاوانونه هم دهمدوئ له لوري ور اوړي .

اوس په ورځو او تورو شپو کې پرمظلوموعامو افغانانودحملو پرمهال همدا داخلي وحشیان اسلامي اوافغاني اصول اوعنعنات تر پښولاندې کوي ؛ بې له خبر ورکولودعاموخلکوپر کور وراوړي ؛ مالونه یې لوټوي له کورونوځوانان راوباسي په مرمیویې ولي او په همدومره ادعاکولو اکتفا کوي چې وسلوال مو په ننبه کړي خو حقیقت بیا بل څه وي او وژل شوي ټول تنان ملکي وګړي وي .

ددې ترځنګ چې ددښمن له لوري په عملیاتو کې تشدد زیات شویدی پکې لوی بدلون داراغلی چې اهل علم اودعلم مرکزونه یې خاص په ننبه کړیدي.

په مدرسویې چاپې زیاتې کړیدي اوله ګنومدرسونه یې استاذان اوشاګردان له ځانه سره ژوندي بوتلی دي او دهېواد په مختلفوبرخوکې دامریکاله لوري دجوړو شویو نوو اربکي ملېشو په لاس په ډېرې بې دردۍ سره هغه علماء کرام په مرموز ډول وژل شویدي کوم چې په خپلوسیموکې مقبولیت لري ؛ دعامو مسلمانانودیني رهنمایې کوي اوددولت او اربکي ملېشوپه وحشتونو انتقادونه کوي .

خوړاندې په میدان وردګو ؛ دخوست په نادرشاه کوټ او اوس په کندزکې درامنځته

شوې اوسنۍ پېښې په څېر دکومې پېښې درامنځته کېدو تمه چانه کوله ځکه چې په اسلامي هېوادونو کې که دوخت حاکمان ډېر هم بې دینه وي دبدنامۍ نه ډکان ساتلو لپاره دداسې وحشي اوبدنامونکو کړنو نه ځان ساتي ؛خو داشرف غني په مشرۍ کې چې اوسنۍ اداره کفرته پخپله له اشغالګرونه هم زیاته مخلصه شویده او خپله اسلام دښمني یې ډېره ډاګیزه کړیده نو هغه څه یې هم وکړل چې داسلامي هېوادونو دیونا اسلامي دولت نه یې هم تمه نه کېږي .

دوحشي قواووپه بمبارکې وژل شوي داټول حافظان ،دسترې دورې نه فارغېدونکې ځوان عالمان ، ددوئ استاذان او ددې فارغېدونکو حافظانو اوعالمانو خپل خپلوان ددستاربندۍ دجلسې په وروستیو لمحاتو کې وو چې پرې بمبار وشو اوداستره مرګه ژوبله رامنځته شوه.

دسیمې ټول اوسېدونکي ، ټولنۍ ، دبشر دحقوقو په نوم فعالې ټولې اداري، دلاسپوڅې اداري وزیران ، والیان ، دپارلمان غړي دامني چې ددستاربندۍ پر جلسې هوایې بریدونه وکړي اودقرآنکریم تنکي حافظان ، عالمان اوجلسې ته راغلي عام خلک په شهادت رسېدلي دي؛ دپېښې درامنځته کېدونه وړاندې دجلسې اوبیا دپېښې نه پس دشهیدانو اوټپیانو تصویرونه او ویډیوګانې هم ټولې نړۍ ولیدلې اودانکارلپاره هیڅ پلمه پاتې نه شوه خوددفاع وزارت ویاند بیاهم له دې ټولو حقایقونه انکار کوي ؛ په دوه ګوتو دلمر پټولوناکامه هڅه کوي او نېه په سپین سترګۍ وایې چې په کومې غونډې حمله نده شوی بلکې دطالبانو قطعه په نښه شوی.

دلمرپه څېر دروښانه حقایقونه دې له شرمه ډک انکار دکابل اداري حیثیت ته نښه ډېر تاوان ورساوه اووطنوالوته یې ددې اداري اصلي څېره لا روښانه کړه.

نورهرځوک پدې پوهېږي اودسیمې ټول خلک داوایې چې دوئ ټول نوي فارغ شوي عالمان او دالله تعالی دمقدس کتاب قرآن کریم هغه کم عمره حافظان وو چې دخپل صغر سني له املې هیڅ ددې وړ نه ووچې دچاپر ضد دې وسله راپورته کړي ؛یادې دکومې جنګي ډلې غړي شي یادې ورسره تړاو ولري ترڅو دلاسپوڅې اداري دوسلوالو او بهرنو اشغالګرو لپاره د دوئ دا تړاو ددوئ ددې بې رحمانه وژل کېدو پلمه شي.

جرم یې بل هیڅ نه و بس یوائې همدا چې دمادیاتو پدې دورکې په اشغال شوي هېواد کې چې دلته دراغلوصلیبي لښکرو له لورې ددې هېواد دتنکیو ځوانانو دګمراه کولو ، ددیني تعلیماتو اواسلامي اخلاقونه دلرې

کولو، له مختلفولارو په ډول ډول بد اخلاقیو ،بې حیایئ او فحشا کې داخته کولو سختې هڅې روانې دي ،دې تنکیو ماشومانو، ځوانانو او ددوئ کورنیو دصلیبیانو اوددوئ دلاسپوڅو دغه هڅې عملاً په ډېر لوړهمت چیلنج کړی وې او په ډېرعالي مورال یې د خړې مدرسې په خټینوکوټو کې پرقرآني اونبوي انواراتو اول دخپلوځانونو اوبیا دخپلې ټولنې منورکول غوښتل.

همدادخپل دین اوالله تعالی دکتاب سره ددوئ دامینه داسلام دښمنې کفري نړۍ په نزدې ډېرسترجرم ونوځکه خو پدې دومره ستر وحشت ټوله هغه غربي نړۍ چوپه خوله ده کومه چې دخپل مطلب په وخت کې دنړۍ په کوم ګوډ کې دیوانسان دښمنه حیوان په وژل کېدو هم نړۍ په سر را اخلی اوداسې شوریې راخستی وي ته به واچې ټوله نړۍ ورانه شویده.

اوس نه دملګروملتونو اداره ددې تاریخي ظلم په مقابل کې کوم اقدام کوي؛ نه اروپایې ټولنه ددې ستروحشت په مقابل کوم غبرګون ښایې اونه هم دبشردحقوقو نړیوالې اداري پدې هکله هغسې مؤثراواز پورته کوي څرنګه چې ورته پکار و.

څه شول دانساني مساوات دا دروغجن دعویداران؟ اوچرته دي دبشر دحقوقو دساتنې په نوم جوړې شوې اداري؟ اوڅه شول نړیوال محاکم؟ ولې ددې ستر وحشت عاملین نه محاکمه کېږي؟ ولې دالوی ظلم تروریستي عمل نه ګڼل کېږي؟

دمکتب په یوې انجلۍ چې ډزکېږي اوسر یې زخمي کېږي نوپه ټولې نړۍ کې یوه ستره غوغا رامنځته کېږي؛ دنړۍ ترټولوعصري روغتونوته په طیارو کې وړل کېږي؛ ټوله نړۍ ورته غېږ خلاصوي اودنوبل په شمول ورته نړیوال مډالونه ورکول کېږي خودلته چې دقرآن زدکوونکي معصومین په ډله ایز ډول په ډېر وحشت وژل کېږي نودګوتو په شمار له یوڅوهېوادونوپرته نوره ټوله نړۍ چپه خوله ده اوهیڅ داسې نه ښکاري لکه په نړۍ کې چې دظلم کومه کوچنۍ پېښه رامنځته شویده.

ددا سې پېښو پرمهال دغرب دریځ دغرب دمنافقت نه ټولې پردې پورته اواصلي څېره یې ټولې نړۍ ته روښانه کوي.

اودټولوېقین ته پرېوځي چې دبشري حقوقو ددفاع په نوم د بشري حقوقو دنړیوالو علمبردا رانو روان تبلیغ اوشعارونه ټول په دروغوولاړ دي، او په دې نامه فعالې اداري هیڅ خپلواکي نه لري؛ دا اداري دامریکا او نورغرب تبلیغاتي اداري دي؛ د همدوئ فرمایشونه تبلیغوي اوله دې پرته بل هیڅ هدف نه لري.

پدې سره دنړيوالو رسنيو کردار او اصلي څېره يوځل بيا افغانانو او ټول مسلمان ملت ته ښه روښانه شوه ؛ددې پېښې دوحشت نه نړۍ په سمه توګه خبرول ؛ ددې ټول جزئيات رامخې ته کول او په مقابل کې يې دافغانانو ، نورو مسلمانانو او بااحساسه نړيوالو دغبرګون نه خلک آګاه کول د نړيوالو رسنيو مسئوليت و ، خو نړيوالو رسنيو خپل لسمه برخه مسئوليت هم ندی اداکړی.

نړيوالی رسنئ نه په ربنتيا ازادې دي اونه هم خپل مسئوليت اداکوي بلکې برعکس تل درسنيو دازادۍ په نوم دغاصبو امريکايانو او نورو زبرځواکونو لپاره تبليغاتي جګړه پرمخ بوځي او نړۍ کې دمظلومو او بې دفاع خلکو دمظلوميت نه ډک پورته شوي غږونه زندۍ کوي او نه پرېږدي چې نړيوال له حقايقو نه خبر شي .

خپل دين ته دژمنتيا او دديني لارښونو او خپل کتاب سره دمينې په جرم ددې تنکو ګلانو شهيدانول او دلاسپوڅې اداړې په لاس دهمدې نوعيت دغه ډول نورې پېښې دانبه روښانه کوي چې اشرف غني او دده اداره د صليبي غرب په ملاتړ مخامخ داسلام ،قرآن او دقرآن دحاملينو سره دښمنۍ او جنګ کې داصل صليبيانو نه هم زيات اخلاص لري او دخپلو بادارانو دخوشالولو په موخه په مسلسل ډول بادارانو ته خپل دا اخلاص ښکاره کوي.

داسلام او قرآن دا خارجي او داخلي دښمنان دې پدې پوه شي هڅې يې په کلي ډول ناکامې دي ؛ دعام ولس په مرګ ژوبلې او خصوصا دقرآنکريم دزده کوونکو داسې کوچنيو ګلانو شهيدانول خپل ځانونه پخپله دهلاکت کندو ته غورځول دي ، ځکه چې دامريکا اوګوډاګيانو په لاس درامنځته شوې هرې ولسي مرګ ژوبلې له املهد بهرنو او داخلي وحشي ځواکونو سره نفرت په ولس کې ځوبرابره زياتيږي او دمجاهدينو ليکي لا پسې قوي کيږي.

دوئ به ددا سې اقداماتو له لارې داسلام داصيلو بچو دزړونو نه دخپل دين او ديني تعليماتو سره مينه ونه شي ويستلای ؛ بلکې برعکس به داسې پېښې دلاسپوڅې اداړې سره دخلکو دنفرت دلازياتوالي او دخپل دين او قرآن سره دځوانانو دلازياتې مينې او همدردۍ سبب شي ؛ مدرسې به لا زياتې اوآبادې شي ؛ ددين نه ددفاع او ددين دزدکړې احساس به ځوانانو کې ښه ډېرشي او ددوئ همداپاک احساس به داشغالګرو او ددوئ دغلامانو شرمېدلی شکست يقيني کړي.ان شاءالله تعالی.

ان شاءالله تعالی.

دوهم مفکر

که دوهم بې رحمه قاتل

حبیب مجاهد

اشرف غني يې په دې شعار او ډنډورو زمونږ په مظلوم ملت مسلط او واکمن کړ چې ګواکې د نړۍ په سطحه دوهم مفکر او د عقل خاوند دی. يو شمير د ورځې په نرخ اتن کوونکو مبلغينو هم د ډالرو لپاره او يا هم د ساده ګۍ له مخې اشرف غني ته همدا تبليغات کول تر دې چې د دوهم مفکر لقب يې د اشرف غني د اصلي نوم په شان مشهور کړ.

مګر له څو کلونو تيريدو وروسته څرګنده شوه، چې افغانان له بارانه تښتيدلي او تر ناوې لاندې يې شپه شوې ده. پخوانی واکمن حامد کرزی که هر څه و خو په زړه کې يې لږ عاطفه درلوده، که به امريکايانو يادا خلي عسکرو ظلم وکړ، نو که نور يې په وسه نه کيدل، کله خو به يې له مظلومانو سره غمشريکي وکړه او يا به يې ورسره وژړل.

مګر راشئ دوهم مفکر ته چې نه پوهيږو، په سينه کې يې زړه دی او که ډبره. دوهم مفکر په خپل قساوت، بې رحمۍ، بې تفاوتۍ او د مظلومو افغانانو په بهانده وينو د باک نه کولو له امله په معاصر وخت کې له بشار الاسد نه وروسته د دوهم ستر قاتل لقب خپل کړی دی.

که له لومړي نمبر قاتل بشار الاسد سره د اشرف غني د اشتراک وجوهات شميرو نو لاندې څو د اشتراک وجوهات يې د يادولو وړ دي.

لومړی: بشار الاسد هم د خپل اولس په خلاف جګړه پيل کړې، د خپل اولس په کليو، بازارانو، مسجدونو، ښوونځيو او شفاخانو باندې د روسي الوتکو بيلري بمونه غورځوي، شپږ کاله يې د اور او وينو لوبه ګرمه وساتله، ټول بشريت وربانده لعنت وايي خو دی هيڅ باک هم نه کوي.

اشرف غني هم کټ مټ همداسې د خپل مظلوم اولس د قتل لپاره امريکايي جنرالان او طيارې را ننګوي، هغوی ته د بې دريغه او بې پوښتنې عملياتو مخه يې ورکړې او که هغوی په کليو، مدرسو او مساجدو کې سپين افغانان شهيدان کړي، ولس دربدره کړي، کورونه لوټ او وران کړي، اشرف غني د سټيج پر سر د دې په ځای چې دخپل اولس کريغې او فرياد واوري يوازې امريکايي جنرالانو ته رکوع ګانې کوي او په درنو القابو او ميډالونو يې نازوي.

دوهم: ماشومان د ځمکې د مخ په هر قانون کې معصوم او نامسؤله دي، اسلام خو نابالغه ماشومان مرفوع القلم بولي، يعنې د دوی هيڅ عمل نه ليکل کيږي او له هرې پوښتنې خلاص دي. د نړۍ په وضعي قوانينو

کې هم ماشومان محفوظ بلل شوي دي او هیڅوک حق نلري چې ماشوم قتل، زخمي او یا زنداني کړي.

مګر دا په اوس په وخت کې د ځمکې په مخ همدا دوه تنه قاتلان بشار

الاسد او اشرف غني دي

چې کوچني ماشومان په داسې بې دردۍ بمباروي، قتلوي او په خپلو وینو کې لمبوي چې باور مو وشه که څوک د هوا مارغان هم داسې په ډلییز ډول قتل عام کړي.

دماشومانو په قتل کې بشار الاسد ځکه لومړی نمبر قاتل دی چې دا شپږ - اوه کاله مسلسل د سوریې په بې ګناه ماشومانو بیلري بمونه غورځوي او په کیمیاوي وسلو یې د ژوند له نعمته محروموي، اما اشرف غني چې تازه یې د ماشومانو په قتل عام شروع کړې، که له خپلې دې ګناه څخه لاس وانخلي نو په تاریخ کې به د ماشومانو تر ټولو ستر اول نمبر قاتل ولیکل شي.

د پخوانیو قتل عامونو په تعقیب د اشرف غني لخوا د ماشومانو د قتل تر ټولو ستره پیښه همدا تازه د کندز په دشت ارچي کې پیښه شوې واقعه ده، دلته د حافظانو او عالمانو د پګړۍ ترلو غونډه وه، دجلسې په صحن کې په سلګونه ماشومان راټول شوي وو، چې د اشرف غني چورلکې راغلې او تر ټولو وړاندې یې دوه دری میزایل د ماشومانو د ناستې په ځای په فیر کړل.

یوه عیني شاهد وویل، دا چې د چورلکو میزایل چره لرونکي وو، کوچني ماشومان یې داسې په یوه بل وغورځول لکه په مرغیو چې ښکاري د چره دار توپک ډز وکړي. وروسته چورلکو نورې ضربې هم وکړې او د سلو تنو په شاوخوا کې ولسي خلک چې مطلق اکثریت یې ماشومان د شهادت په خوب ویده کړل.

د اسلام غزوات او سرایا

د خیبر غزوه

...په تیر پسې

ابو ظهیر

ابوظهیر

رسول الله ﷺ چې کله خیبرته نیږدې ورسید صحابه وو ته دتم کیدو حکم وکړ حکم وکړ او لاندې دعاء یې او کړه:

اللّهُم رَبّ السّمَوَات وَ مَا اَظلَلنَ وَرَبّ الاَ رضِينَ وَ مَا اَقلَلنَ وَرَبّ الشّيَاطِين وَمَا اَضلَلنَ وَرَبّ الرّيَاح وَ مَا اَذرَينَ فَاِنّا نَسألُکَ خَيرَ هَذهِ القَريَةِ وَخَيرَ أَهلِهَا وَخَيرَ مَافِيهَا وَ نَعُوذبِکَ مِن شرّ هَا وَشرّ أَهلِهَا وَشرّ مَا فِيهَا اقدمُوا بسم الله

درسول الله ﷺ دا عادت مبارک و، چې کله کوم کلي ته به ننوت پورته دعاء به یې لوستله (ابن هشام ۱۵۸مخ) صحیح بخاري کې له حضرت انس رضي الله عنه نه روایت دی : رسول الله ﷺ دشپې مهال خیبر ته ورسید او درسول الله ﷺ دا مبارک عادت هم و چې د شپې لخوا به یې په هیڅ دښمن حمله نه کوله او دسهار راختو انتظار به یې کاوه، که د اذان غږ به یې واریدِ په هغو خلکو یې حمله نه وروړه او که وابه یې نه وریدِ وربانديې حمله یې وروړه ، دهمدې سنت له مخې خیبر کې هم دسهار د اذان غږ ته منتظر و، لیکن اذان اونشو بیا یې دحملې تیاری ونیو بل پلو ته یهودانو د سهارپه راتلو خپلې کاهی ګانې او بیلچې را اخیستې وې او خپلو کارونو ته وتل ناڅاپه درسول الله ﷺ دلښکر سره مخ شول او دڅانو سره یې وویل:

مُحَمّد وَالخَميس يعنې محمد دخپل ټول پوځ او لښکر سره یو ځای راغلی

لښکرته (خمیس) په دې وایي چې هغه برخې لري

۱ـ مقدمه ۲ـ میمنه ۳ـ میسره ۴- قلب ۵- ساقه

او دهغوی په لیدلو رسول الله ﷺ دواړه لاسونه د دعاء لپارهونیول وې فرمائل:

الله اکبر خَرِبَت خيبر اِنّا اِذَا نَزَلنَا بِسَاحَةِ قَومٍ فَسَاءَ صَبَاحُ المُنذَرين

(بخاري وفتح الباري ۷ټوک ۳۵۹مخ)

په خیبر کې دیهودو ګڼې کلاګانې وې ، یهودان درسول الله ﷺ په لیدلو سره لاړل دخپلو اولادونو سره یوځای د کلاګانو دننه پټ شول رسول الله ﷺ پر هغو کلاوو حملې پیل کړې اوله یوبل وروسته یې فتح کړې

۱-ناعم کلا

ترټولو لومړی ناعم کلا فتحه شوه محمودبن مسلمه رضي الله عنه دهغې په لمنه کې و چې یهودو وربانديې دمیچنې پل راګذار کړ او شهید یې کړ

۲-قموص کلا

دناعم کلا وروسته قموص کلا فتحه شوه داکلا دخیبر په کلا ګانو کې نهایت کلکه وه، کله چې محاصره شوه رسول الله ﷺ دشقیقه درد له وجې میدان ته رانغی او دجنګ نښان یې ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته ولیږه،دډیر کوښښ سره بیا هم کلا فتحه نشوه او بیرته ستون شو، په دوهمه ورځ یې حضرت عمر رضي الله عنه ته نښان ورکړ او وایې ستاوه حضرت عمر رضي الله عنه پخپل ټول وس قتال وکړ خو هغه هم دفتحې پرته بیرته راغی (رواه احمد والنسائي وابن حبان والحاكم عن بريدة الخصيب رضي الله عنه)

په دې ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل: سباته دانښان هغه چاته ورکوم چې دالله او دهغه درسول سره محبت کوي او الله او رسول الله دهغه سره محبت کوي او دهغه په لاس به دافتحه کیږي

هرسړی منتظر و چې دا سعادت دچا په برخه کیږي ټوله شپه په دې تمنا وو اوارزوګانو کې تیره شوه، سهار رسول الله ﷺ حضرت علی رضي الله عنه طلب کړ، هغه دغه مهال ناروغه و اوسترګې یې خوږیدې ، رسول الله ﷺ خپلې لاړې وربورې او منبلې او دعاء یې وکړه سملاسي سترګې روغې شوې داسې لکه چې هیڅک شکایت ورته نه و پیښ او بیا یې هغه ته نښان ورکړ هم یې دانصحیت یې ورته وکړ:

دجهادو قتال نه وړاندې هغوی ته داسلام دعوت ورکړه او دالله تعالی له حقوقو یې خبر کړه په الله سوګند که یوتن ته الله تعالی ستا په زریعه هدایت نصیب کړي ستا لپاره له سرو اوښانو څخه زیات غوره دی حضرت علی رضي الله عنه نښان واخیست او روان شو، کلایې په لاس فتحه شوه (رواه البخاري فتح الباري ۷ټوک ۳۶۵مخ)

دیهودانو مشهور او نومیالي پهلوان مرحب دهغه مقابلې ته راووت او دا رجزیه اشعار یې ویل :

قَد عَلِمت خَيبر آنِي مُرحّب
شَاكِي السّلاح بَطَلٌ مُجرَب

دخیبرخلکوته معلومه ده زه مرحب یم! وسله په تن ، زړور او تجربه کاریم

عامر بن اکوع رضي الله عنه ور ووت او دا رجز ووایه :

قَد عَلِمت خيبرُ اَنِی عَامر شَاكِی السلاح بَطَلٌ مُغَامِر

عامر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اراده وکړه چې دهغه پر پښو دتورې ګذار وکړي خو توره بيرته دهغه پخپله پښه ولګيده او وفات شو سلمه بن اکوع وايي: په بيرته راتلو کې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه غمګين وليدم سبب يې رانه اوپوښته ما عرض وکړ چې:

خلک ګومان کوي دعامر اعمال خراب شول ځکه هغه پخپله توره لګيدو په وجه مړ شو رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: هرچا ويلي غلط يې ويلي هغه لوی مجاهد دی او په ګوتو سره يې اشاره کې وويل: دهغه لپاره دوه اجرونه دي

ابن اسحاق په روايت کې دي: چې وفرمايل: هغه شهيد دی او دهغه دجنازي لمونځ يې وکړ (ابن سعد ۲ټوک ۸۰مخ)

دهغه نه وروسته حضرت علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د مرحب په ځواب کې دا رجز وايه او وړاندې ورغی:

اَنَاالّذی سَمّتنی اُمّی حيدره

كَلَيثِ غَابَاتٍ كَرِيهِ المَنظرَه

زه هغه يم چې زما مور راته نوم حيدر (زمری) ايښی دی پشان دزمري نهايتي ډارونکی يم

دايې وويل: په دومره زور سره يې دمرحب په سر دتورې ګذار وکړ چې سربې دوه ټوټې شو او کلا فتحه شوه (رواه مسلم ، فتح الباري ۷ټوک ۳۶۷مخ)

دهغه وروسته دمرحب رور ياسر مقابلې ته راغی حضرت زبير رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورووړاندې شو او انجام ته يې ورساوه (زاد المعاد ، ابن هشام ۲ټوک ۱۸۷مخ)

دا کلا دشل ورځو محاصرې وروسته دحضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په لاس فتح شوه دغنيمت نه علاوه ډير زيات بنديان په لاس ورغلل چې په هغوکې دبنو نضيرو دسردار لور صفيه بنت حيي بن اخطب او کنانة بن الربيع ميرمن هم وه

نکته :

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هره ورځ په کومه کلا باندې دحملې اراده کوله نو دمهاجرينو او انصارو له مشرانو څخه به يې يوتن غوره کړ او هغه ته به يې داسلام بيرغ ورکړ او دالله تعالی په فضل سره به هغه کلا فتحه شوه داچې دقموص کلا دفتح فضيلت په اړه پريکړه په ازلي قضاء کې دحضرت علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په برخه ليکلې و ه.په دې وجه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ را وغوښت او بيرغ يې هغه ته ورکړ او درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا فرمان چې بيرغ به داسې شخص ته ورکوم چې هغه دخدای او دهغه درسول دوست دی دادقدردانی او حوصله ببنې له پلوه دی ، معاذالله ددي دا مطلب ندی چې ددي شخص پرته بل څوک دالله او رسول دوست ندی

حضرت صفيه او دهغې دترونو دوه لونې په قموص کلا نه ونيول شوې او دحضرت صفيې دميړه نوم کنانة بن ربيع و

کوم چې په دې غزوه کې ووژل شو.

دصعب بن معاذ کلا:

قموص کلا دفتح وروسته دصعب بن معاذ کلا فتح شوه په کومه کې چې غله، غوړي او دخوراک ځنباک بې شمیره سامان وو هغه ټول دمسلمانانو لاسو ته ورغلل

په یوروایت کې دي چې کله مسلمانان دخورا ځنباک توکو دکمښت سره مخ شول نو هغوی رسول الله ﷺ ته دعاء وړاندیز وکړ وکړ رسول الله ﷺ دعاء وکړه په سباته دصعب بن معاذ کلا فتح شوه او دخوړو ځکلو زیات شمیر ځښزونه مسلمانانو ته په لاس ورغلل (عیون الاثر ۲ ټوک ۱۳۴ مخ)

په همدې ورځ رسول الله ﷺ ولیدل چې هر لورته اورونه بل دي رسول الله ﷺ وپوښتل داڅه دي؟ خلکو وویل: غوښه پخوو! رسول الله ﷺ وپوښتل دڅه غوښه؟ وویل: دکورنیو خرو غوښه ده

رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه نجس دی ټول یې وغورځوئ او لوښي هم مات کړئ

چا عرض وکړ: یارسول الله ﷺ که غوښه او غورځوو او لوښي او وینځل شي ددې اجازت شته رسول الله ﷺ وفرمایل: ښه ده لوښي ووینځئ

۴- حصنِ قُله کلا:

ددینه وروسته یهودان دحصنِ قله په نوم قلا ته لاړل او هلته پټ شول کومه چې نهایتي کلکه او دغره په څوکه جوړه کلا وه په دې وجه یې نوم حصن قله ایښی و، قُله معنی دغره څوکه کومه چې وروسته دزبیر په کلا مشهوره شوه ځکه چې دغنیمتونو دویشلو وروسته دا کلا دزبیر رضی الله عنه په برخه ورسیده

تردې ورځو رسول الله ﷺ دا قلا محاصره کړه دحسنِ اتفاق له مخې یو یهودي رسول الله ﷺ ته راغی او عرض یې وکړ:

ای ابو القاسم که ټوله میاشت هم دا کلا محاصره کړي بیا هم ددي خلکو پروا نه راځي زکه دهغوی سره دزمکې لاندې داوبو چینې دي او دشپې را ووزي او به یوسي او په کلا کې پټ شي که ته وربانديې اوبو بندي کړي نو بری مندلی شي

رسول الله ﷺ په هغوی اوبو بندې کړې مجبور شول چې دکلا ځخه راووتل او سخت جنګ اوشو لس یهودان ووژل شول او څوتنه مسلمانان شهیدان شول او کلا فتح شوه

حافظ ابن کثیر وایي: داکلا دقله نطاة وروستی کلاوه چې دفتحې وروسته یې رسول الله ﷺ دشق سیمې کلاګانوته متوجه شو او هلته لومړی قلعه ابی فتح شوه کومه چې دسختې مقابلې وروسته فتح شوه او مسلمانان هغو ته ننوتل دهغه وروسته نور

کلاګاني فتح شوې (البدایه والنهایه ۴ټوک ۱۹۸ مخ)

وَطیح او سلالم:

دحصـن قلـه وروسـته رسـول الـله ﷺ دنـورو کلاګانو فتح کولو لورته متوجه شو کله چې ټولې کلاګانې ونیول شوې نو په پای کې وطیح او سلالم لورته لاړل او په ځینې روایتونو کې دالکتیبه ذکر هم راغلی ددینه وړاندې زیاتره کلاګانې فتح شوې یوائې دوه کلا ګانې پاتې وې دیهودانو ټول زور د هغو دننه پټ و، یهود هرلورنه راغلل په هغو کلاګانو کې میشت شول دځوارلس ورځو کلابندی وروسته مجبور شول دسلحې وړاندیز یې وکړ رسول الله ﷺ دهغوی غوښتنه او منله یهودانو ابن ابې الحقیق دصلحې په اړه خبرو کولو لپاره ولیږه رسول الله ﷺ په دې شرط دهغوی ځانونه اوبښل چې دخیبر زمکه خالي کړئ یعني ټول به جلاوطن شئ، سره زر، سپین زر او دجنګ ټول سامان خوشي کړئ او هیڅ څیز به پټ نه وړئ که ددي خلاف موو کړنو الله تعالی او دهغه رسول بړئ الذمه دی (زاد المعاد ۳ټوک ۱۳۶ مخ)

خو یهود ددي عهدو میثاق کولو با وجود دخپل شرارت نه لاس په سر نشول او حیي بن اخطب یو چرمي خلته (په هغه کې دټولو زیورات خوندي وو) ورکه شوه رسول الله ﷺ کنانة الربیع راوغوښت او تري وي پوښتل چې هغه خلته چیرته ده کنانه وویل هغه په جنګونو کې مصرف شو ه رسول الله ﷺ وفرمایل:

"زمانه خو زیاته نده تیره او مال پکې زیات و"

دا دابن سعد روایت دی دا بو داود په روایت کې دي چې دسعید څخه یې وپوښتل

دا دبیهقي او د ابن سعد په بل روایت کې دي چې کنانه او دهغه ورور څخه یې هم وپوښتل ټولو همدا وویل چې مصرف شوې رسول الله ﷺ وفرمایل که هغه کښوړه راپیدا شوه نو بیا ستاسو خیر نشته ، رسول الله ﷺ دا وویل او یو انصاري ته یې حکم وکړ چې: لاړشه فلاني ځای کې یوه ونه ده دهغې په بیخ کې یې پټه کړې هغه صحابي لاړ او مال یې راوویست چې بیه یې لس زره دینار وه په دې جرم هغه ټول خلک ووژل شول (زرقاني ۲ټوک ۱۲۹ مخ)

په هغوی کې دصفیې میړه هم و، چې نوم یې کنانه بن الربیع ابي الحقیق و(البدایه والنهایة ۴ټوک ۱۹۹ مخ)

علاوه ددینه دکنانه بل جرم داو چې هغه محمدبن مسلمه رضی الله عنه ورور محمود بن مسلمه رضی الله عنه شهید کړی و رسول الله ﷺ کنانه محمد بن مسلمه ته وسپاره او هغه دخپل ورور محمود بن مسلمه په بدل کې قتل کړ (سیرة ابن هشام)



روانې جګړه

سعد کتوازی

له څو اونیو راسې د اشغالګرو او ګوډاګې رژیم د سولې دغونډو او منډوپه غولونکې نوم په طالبانو له مذهبي او عقیدوي فشار سره په یو وخت زموږ ځینې هیواد والو هم له طالبانو د سولې غوښتنې په نوم لاریونونه پیل کړي، په دې اړه تبصرې هم شوې دي خوزه وایم چې دغه لاریون وال په دې ښه پوهیږي چې جګړه چا په موږ تپلې او درول یې له چاغواړو؟ او دوی چې ترې سوله غواړي ایا د هغو واقعې موخه د دوی له ښکارندویې سره یوه نه ده؟ ایا د دوی د لاریونونو سره په یو وخت چې په فراه، بدخشان، هلمند، میوند، کندوز او.....کې کومې بمباري ، وژنې او ورانونې کیږي هغه هم همدغه طالبان کوي؟ ایا په داسې حال کې د دې بمباریو او لاریونونو واقعي موخه یوه نه ده؟ سړی حیران شي چې د خپل کورنې اسلام او پردې باندینې کفر د مقابلې په وخت مسلمان! د کفر نه بلکې د خپل اسلام په وړاندې لاریون؟؟؟ له شک پرته دغه لاریونوال د روانې جګړې ښکارشوي، لاره یې ورکه کړې او میدان یې بایللی دی، دوی له خپل نړیوال ریکارډ سربیره له خپل سرشاره تاریخ څخه ځان ناخبره ښیې او په لوی لارس د رواني جګړې کومې ته ځانونه ورکوي.

د رواني جګړې پیژندنه: د رواني جګړې اصطلاح د دوهمې نړیوالې جګړې را وروسته رواج شوې ده، د (جګړه ایز) قانون له مخې د رواني جګړې داسې تعریف نشته چې کوم سرحد ولري، خو بیا هم لاندې تعریف د رواني جګړې مهم اړخونه را نغاړي.

رواني جګړه د تسلیمې او یاهم جنګ په وخت د ډول ډول مطبوعاتي فعالیتونو لپاره د یو دولت، یا ډیرو دولتونو او یا هم یو ګوند له لورې د ټاکل شوي پلان کارولو ته وایې، چې د خلکو د خواخوږۍ را خپلولو، د موافقو او مخالفو ټولنو او دولتونو د تګلورو، اندونو، او دریځونو د اغیزمنولو، په موخه او یا هم د داسې پر شاتګ یا سولې په موخه تر سره کیږي چې د یوه دولت، ډیرو دولتونو او یاهم د یو ګوند د سیاستونو او اهدافو خوندیتوب ته لاره اوار وي.

دکمزوري په نن سبا وخت کې د رواني جګړې اړتیا او ونډه: د انفال سورت په(۱۲) م ایات کې خدای (ج) داسې فرمایې ﴿سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ

الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ﴾ ډیر زر بـه زه د کـافرانو پـه زړونو کې ویره ور واچوم.

او د حشر سورت په(۲) م ﴿وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُمْ بِأَيْـدِيهِمْ وَأَيْـدِي الْمُـؤْمِنِينَ فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ﴾ او د دوی پـه زړونـو کـې خـدای (ج) ترهـه واچولـه (چـې بیـا) دوی خپـل کورونه په خپل او په مسلمانانو بانـدي وران کـړل، نو د عقـل څښـتنانو! تاسـو لـه دوی څخـه څـه زده کړئ.

همدارنګه رسول الله مبارك(ص) ویلي (نصرت بالرعب مسيرة شهر) زما څخه دښـمن تـه د ویـرې ور اچولو پـه مرسـته زمـا د یـوې میاشـتې واټـن را لنډشو.

رواني جګړې پـه رښـتیا چـې لـه هغـو نـاوړو جګړو څخه دي چې په مسلمانانو او اسلامي ټولنـو تپل کیږي، لوی هیوادونـه اوس هرلـوري تـه رواني جګړې تپي، پـوځي جګـړه یـې هـم ځکـه پـه رواني جګړه واړول شوه چې د وسلې ستونزه یې کمـه خـو ګټه یې زیاته او پایلـه یـې ښـه وي، بلکـې لا پـوځي توکې د رواني جګړې له وسیلو څخه وګرځیدلې.

رواني جګړه له هر لوري را پورته کیږي چـې له وسلوالي جګړې مخکې، د هغې د دوام په مهـال او له هغې وروسته هم پاتې وي، زیاتر د هغې بریـا او یا مـاتې څـو ورځـي وروسـته او کلـه خـو کلونـه وروسـته د هغـې لـه نښـو ښـکاره کیـږي، خـو بـر یالیتوب یې ډیر لوړ وي، رواني جګړه نه قـانون تـه غاړه ږدي او نه هم جګړه ایزي تجربي ته.

رواني جګړه تر بلي هري هغـې نـاوړه ده چـې پکې د سیال لوري عقل، زړه او فکر په نښه کیږي ، له روحي ماتې سره یـې مـخ کـوي، پـه هغـه کـې د جګړې په اړه نوې پریکړه رامنځته کوي او کرار یې د ماتې په لور بیایې.

امریکـایې جـنرال جـیمس ګـانین پـه وینـا وروسته له هغه چې د رواني جګـړې اغیـز او اړتیـا نښه ښکاره شوي لویدیځوالو په دې وروستیو کې په ټولو جنګي ستراتیژیو او د هغو په طبعیاتو لـه سره غور کړی، او (په پایلـه کـې) یـوه نـوې سـتراتیجې پلان کړې چـې پـه فکـري او رواني اثـر بـه تـر سره کیږي، او له همدې امله نن سبا جګـړې د پراخـي رواني جګړې بڼه خپله کړې.

اوښاغلی چرشل بیـا وایـې: رواني جګـړې (د اغیز له مخي دومره زورروي دي چې) ډیـر ځلـه د تاریخ پاڼه بدلوي،

رواني جګړې د پوځي، مالي، او سیاسي جګړو په ملتیا یوه پراخه بڼه خپله کړې، زمونږ د کمزوري په دې وخت کې د ګڼ شمېر تجربو په ترسره کولو رواني جګړه اوس یو لـه مهمـو او اړینـو فعـالیتونو څخه ګرځېدلې، دومـره مهـم چـې کـرار کـرار یـې کیسـه اوس تـر اداري او دولتـي سـیالۍ او پنجـه ازمـاینې رسـیدلې، دغـه اهمیـت یـواځې زمـونږ د اداري ټولنې د فکري ځانګړتیا انعکاس دی.

پوځي او سیاسي مشرـان او پوهـان زیـاتر پـه دې اند دي چې رواني جګړه اوس د پوځي او فکري جګړې دواړو یوه مهمه برخه ګرځیدلې او لـه هغـو

سره یوځای کاریدونکې ده، له همدې املـه مـوږ وینو چې لوی دولتونـه او ریاسـتونه پـه خپـل ټـول توان کوښښ کوي چې د روانې جگـــړې برخـــه لا پسې نـه کړي.

دکتـــور زهـرا ن وایـي ((پـه ننني جگړه کې ترټولو باوري وسله چې دولتونه يې کاروي روانې جگړه بلله کيږي، چې د سيال اړخ د ارادې او معنویاتو په وژنه کې د پـام وړ رول ادا کـوي)) دکتـور زيـاتوي چـې ((روانې جگړه نن يوه مهمه موضـوع ده او داډول جگـړه تـر ټولو ناوړه ده)).

دوکتور مختار تهامي وايې ((روانې جگـړه لـه شک پرته چې ډيره ناوړه وسـله ده، خـو داسي چـې دوه طرفه لري))، روانې جگـړه چـې پـه مسـلمانانو وتپل شوه او په هغو يې د نبي عليه السلام په وخت کې ټول مشرک او يهودي ځواک را ښکاره کړ په اړه يې دکتور عـلي حسـني خربـوطلي وايـې ((دا هغـه ناوړه جگړه ده چـې پـه هروخـت او هـر ځـای کـې اصـــلاحې پاځونونـــه او خوځښـــتونه ور سره مـــخ کيږي،ريښـتيني، پـرمختللي لـوړ افکـار او ښـووني تحريفوي، عقل او زړه تـه د هغـو د رسـيدلو مخـه نيسي، رواني جگړه د ټوټـه کيـدو او بيلتـون تـوکم شيندي، له پرمختگ او نووښـت پـه لاره کې خنډونه را ولاړوي، پـه پټـه او پـه نـا پامي کـې صورت نيسي، ناڅاپـه انسـان پـرې لگيږي، فکري ګډوډي، د اوازو جوړولو، د ترهې خپرولو او د هغو وسيلو پيروي ته خلک رابولي چې رواني جگړې ته يې پام اړوي)).

د جنگ په ډگر کې ايټمي وسلو رواني جگـړه نوره هم له پوځي هغې غښـتلې کـړه چـې د وسـلو ځيني نړيوالي زيرمې په ايټمي مـوادو پوښـلې دي، ورسره رواني جگـړې نـوي اړخونـه خپـل کـړي، د پوځي هغې ځای يې نيـولی، او د جگـړې يـواځينی ډول دی چې لـوی ریاسـتونه او حکومتونـه کـولای شي د هغو جگړو په پرتله زيات پرور ګډشي کومي چې په نړيوالـه کچـه پـه درښيمـه رتبـه کـې اټکـل شوي.

نوربيا...

جنګي جنايتونه (مارچ)

سید سعید

د ۲۰۱۸ز، کال د مارچ دمیاشتي په ۲مه نیټه دغزني ولایت دقره باغ ولسوالۍ په شیر اباد سیمه کې اربکیان دابراهیم اکا په نوم یو دوکاندار کور ته ورغلي،دنوموړي په ګډون یې یوه میرمن اودوه ماشومان شهیدان او پنځه تنه ژوبل کړي دي. خلکو داربکیانو ددې کړنې په غبرګون کې دغزني په مرکز کې احتجاج پیل کړ او دخپلو قاتلانو دنیولو او محاکمه کولو غوښتنه یې کوله،خو حکومت نه یوازي داچې دمظاره کونکو غوښتنې ونه منلې، بلکي پر لاریون کونکو یې ډزي وکړې چې له املې یې مظاهره کونکو ته مرګ ژوبله واوښته.

مارچ په ۴مه د خوست ولایت دنادرشاه کوټ ولسوالۍ دزنه خپلو په زیړي کلي کې دکمپاین عسکرو پریو کور دچاپې په مهال یوه میرمن او ماشومه او دوه ملکي وګړي شهیدان کړي. خلکو دکمپیان عسکرو ددې عمل په عکس العمل کې دکابل – خوست لاره تړلې وه او دقاتلینو دمحاکمې غوښتنه یې کوله.

دمارچ په ۴مه دفاریاب ولایت دجمعه بازار ولسوالۍ د قره شیخي په سیمه کې دداخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې یو ماشوم شهید او دوه کوچنیان ژوبل شوي دي.

د مارچ په ۵مه داخلي عسکرو دغزني ولایت مرکز مربوط حیدراباد سیمه کې پر هغو لاریون کونکو پیرونه کړي چې په قره باغ ولسوالۍ کې یې داربکیانو له لوري دولسي وګړو دوژنې پر ضد داحتجاج خیمه درولې وه.خبر کې ویل شوي په دغه برید کې څلور تنه لاریون کونکي شهیدان او درې کسه ټپیان شوي دي.

دمارچ په ۵مه د خوست ولایت مرکز اړوند روغه سیمه کې د کمپاین عسکرو په یوه دیني مدرسه چاپه وهلې، د مدرسې ګڼ شمېر استادان او زده کونکي یې وهلي او لس تنه زده کونکي یې د بندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

دمارچ په ۵مه د کاپیساولایت دنجراب ولسوالۍ په برکت خیلو سیمه کې ددا خلي عسکرو په ډزو کې یوه میرمن شهیده او دوه تنه ټپیان شوي دي.

دمارچ په ۵مه دکندهار ولایت دمیوند ولسوالۍ دبند تیمور په سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال شپږ تنه ملکي

وګړي شهيدان کړي او ديرش نفره يې اسيران کړي دي.

دمارچ په ۶مه د پکتيکا ولايت په نکه ولسوالۍ کې بهرنيو او کورنيو عسکرو ۳ روغتيايي مرکزونه ويجاړ کړي او ۱۰۰ دوکانونه يې چور کړي دي. په سيمه کې قومي مشرانو رسنيو ته ويلي چې ګډوځواکونو ديو دولتي کلينک په ګډون د سپاهي او ډاکټر زکيم کلينکونه هم وران کړي او د همدې روغتونودړې تنه ډاکټران يې بنديان کړ ي دي.

دمارچ په ۶ د فارياب ولايت دپشتونکوټ ولسوالۍ د شرشر او يقلو په سيمو کې دداخلي عسکرو په ډزو کې څلور تنه ملکي وګړي شهيدان او دوه نفره ټپيان شوي دي.

دمارچ په ۶مه د ننګرهار ولايت د بټي کوټ ولسوالۍ په باريکاب سيمه کې اشغالګرو او کورنيو عسکرو دچاپې په مهال يو ملکي وګړی شهيد کړی او دوه تنه يې بنديان کړي دي.

دمارچ په ۶مه د کندهار ولايت د شاوليکوټ ولسوالۍ په کجور سيمه کې يرغلګرو او داخلي عسکرو چاپه وهلې، څلور تنه ملکي وګړي يې شهيدان کړي او لس تنه يې بنديان کړي دي. دسيمه ييزو وګړو په وينا عسکرو په سيمه کې يو کاريز هم منفجر کړی او خلګو ته يې مالي زيانونه اړولي دي.

د مارچ په ۱۱مه د بلخ ولايت د بلخ ولسوالۍ په شرشرک کلي کې پوليسو يو ښوونکی (داد محمد)شهيد کړی دی.

دمارچ په ۱۳مه د کندز ولايت مرکز اړوند اورتبلاقو سيمه کې عسکرو د برق يو انجنير چې دبرق په برابرولو بوخت و، شهيد کړی دی.

دمارچ په ۱۵مه د فارياب ولايت دپښتونکوټ ولسوالۍ په مربوطاتو کې کمانډو عسکرو دطالبانو سره تر جګړې وروسته دهاوان پيرونه کړي، دعيني شاهدانو په وينا په دې بريدونو کې اته تنه ولسي وګړي شهيدان شوي او پنځه نفره ټپيان شوي دي.

دمارچ په ۱۶مه د هلمند ولايت د نادعلي ولسوالۍ د شين ګل چارراهي په سيمه کې د يرغلګرو په ډرون حمله کې يو تن بزګر شهيد شوی دی.

دمارچ په ۱۶مه يرغلګرو د ننګرهار دچپرهار ولسوالۍ په مانډو، ګراتک او مندرخيلو کليو کې نهه تنه ملکي وګړي شهيدان کړي او ګڼ نور ژوبل کړي دي. ددې پيښې په غبرګون کې خلګو دجلال اباد– چپرهار لار د ترافيکو پر مخ ټرلې وه او دخپلو خلګو دقاتلانو دمحاکمې غوښتنه يې کوله.

دمارچ په ۱۷مه د پکتيکاولايت داورګون ولسوالۍ په پيرکوتي سيمه کې داخلي عسکرو دچاپې په مهال يوه ملکي وګړی شهيد او بل تن زخمي کړی او درې نفره يې بنديان کړي دي.

دمارچ په ۱۷مه دلوګر ولايت د برکي ولسوالۍ په شاه مزار سيمه کې داخلي عسکرو د چاپې په مهال په سيمه کې د راډيوګانو يو تن جورونکی (مستري) شهيد کړی او څلور تنه بزګران يې له ځان سره د بنديانو په توګه وړي دي.

دمارچ په ۱۷مه د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ په ټټنګ سیمه کې اشغالګرو اوداخلي عسکرو پر یوه مدرسه چاپه وهلې، دمدرسې یو تن استاد او پنځه تنه حافظان یې شهیدان کړي او دمدرسې یوه برخه یې ویجاړه کړې ده. په دې چاپه کې عسکرو دخلګو له کورونو قیمتي توکي هم وړي دي.

دمارچ په ۱۸مه د بادغیس ولایت د مرغاب ولسوالۍ د جه خوجي په سیمه کې دداخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې دوه ماشومان شهیدان او یوه میرمن ژوبله شوې ده.

دمارچ په ۲۰مه د فراه ولایت دانار درې ولسوالۍ د بابوس په سیمه کې یرغلګرو اووه تنه کروندګر چې په پټې کې د پالیز په کار بوخت وو ،شهیدان کړي دي.

دمارچ په ۲۱مه د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ په مملې سیمه کې اشغالګرو د ملکي خلکو په کورونو چاپه وهلې، د کورونو دروازې یې په بمونو الوزولې، کورونه یې تلاشي کړي، دخلګوشتمنۍ یې لوټ کړې او دوه تنه ولسي وګړي یې شهیدان کړي او لس تنه یې بندیان کړي دي.

دمارچ په ۲۲مه دمیدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالۍ د تنګي درې دوآب او ګلي خیلو سیمو کې داخلي عسکرو دچاپې په مهال خلک وهلي، دکورونو دروازې ماتې کړي او دښوونځي دوه تنه استادان (معلم احسان الدین او معلم سیدرحمان) یې له ځان سره د بندیانو په توګه وړي دي.

دمارچ په ۲۲مه د فراه ولایت د پشتکوه ولسوالۍ د کاریزک په سیمه کې یرغلګرو او کورنیو عسکرو دچاپې په مهال درې تنه ولسي وګړي شهیدان کړي او پنځه نفره یې بندیان کړي دي.

دمارچ په ۲۲مه د فراه ولایت د پشتکوه ولسوالۍ د کاریزک په سیمه کې خارجي او داخلي عسکرو دچاپې په مهال درې تنه ولسي وګړي شهیدان کړي او پنځه تنه یې بندیان کړي دي.

دمارچ په ۲۵مه رسنیو خبر ورکړ چې: د هلمند ولایت په ځینو ولسوالیو او ان مرکز لښکر ګاه کې اربکیانو، پولیسو او داردو عسکرو په ښوونځیو کې سنګرونه جوړ کړي، دهلمند دپوهنې ریس داود شاه صفاري مني چې عسکرو په یو شمېر ښوونځیو کې مورچلونه جوړ کړي او زده کونکي له زده کړو بې برخې شوي، نوموړی زیاتوي چې: ځایې عسکرودنادعلی په مرکزي لیسه کې هم قرارګاه جوړه کړې، د صفاري په وینا عسکرو په یاده شوې لیسه کې د زده کونکو له چوکیو او حتی کتابونو هم د سون دموادو په توګه استفاده کړې ده.

دمارچ په ۲۵مه د فراه ولایت د خاکسفید ولسوالۍ په محلي خان سیمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو دخلګو پر کورونو د چاپې په ترڅ کې څلور تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان کړي او

پنځه ویشت تنه ولسي هیوادوال یې بندیان کړي دي.

دمارچ په ۲۵مه د میدان وردګ ولایت دسیدآباد ولسوالۍ په چیجان کلي باندې اشغالګرو او داخلي عسکرو چاپه وهلې، خلک یې وهلي، دکورونو دروازې یې په بمونو الوزولې، پریو مسجد یې بمبار کړی، پنځه تنه لمونځ کونکي یې پکې تپیان کړي، دیو کس د مرګ او ژوند حال معلوم نه دی او پنځه تنه یې بندیان کړي دي.

دمارچ په ۲۶مه د ننګرهار ولایت د شیرزادو ولسوالۍ په توتو سیمه کې داخلي کمانډو عسکرو دوه تنه کلیوال شهیدان او یوبل ژوبل کړی دی.

دمارچ په ۲۶مه د هلمند ولایت دشوراب هوایي اډې ته څیرمه داخلي عسکرو دملکي خلکو په یو فلډر موټر ډزې کړې، په موټر کې ناست دوه نارینه شهیدان شوي او یوه ښځه او ماشوم ژوبل شوي دي.

دمارچ په ۲۷مه دمیدان وردګ ولایت دسیدآباد ولسوالۍ د تنګي درې په امیرشاره سیمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو دملکي خلکو پرکورونو چاپه وهلې، څلور تنه ملکي وګړي یې شهیدان کړي او پنځه تنه یې بندیان کړي دي.

دمارچ په ۲۷مه د کندز ولایت مرکز اړوند زرخرید سیمه کې اربکیانو وروسته له هغه دوه تنه بزګران په خپل پټي کې شهیدان کړل چې قوماندان یې (ظاهر) دطالبانو په برید کې ووژل شو.

دمارچ په ۲۹مه دکندهار ولایت دمیوند ولسوالۍ په سره بغل سیمه کې یرغلګر او داخلي عسکر دعملیاتو په مهال دوه ویشت تنه ملکي هیوادوال شهیدان او ګڼ نور زخمیان کړي دي. یرغلګرو او داخلي عسکرو په یادوو شوو عملیاتو کې یوه دواخانه ویجاړه کړې، دخلګو موټر او نور شیان سوځولي او ملکي خلګو ته یې پراخ مالي زیان هم رسولی دی.

دمارچ په ۲۹مه دبدخشان ولایت د جرم ولسوالۍ په آب راغک او فرغامیرو سیمو کې داخلي عسکرو دهستوګني پر سیمو هاوانونه پیر کړي، په دې بریدنو کې دښځو او ماشومانو په شمول اته تنه ملکي وګړي شهیدان شوي او شل تنه ولسي هیوادوال چې میرمنې او کوچنیان هم پکې شامل دي ټپیان شوي دي. همدارنګه په یادو شوو توغندیزو بریدونو کې دیرش کورونه زیانمن شوي او ډیر زیات مواشي هم له منځه تللي دي.

دمارچ په ۳۰مه د ننګرهار ولایت دبټي کوټ ولسوالۍ په چهاردهي سیمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال یو ملکي وګړی شهید کړی او دوه تنه یې بندیان کړي دي.

مأخذونه : بي بي سي راډیو، ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ، پژواک = ،خبریال ویبپاڼه، لراوبر= ، نن ټکی اسیا=اوبینوا=]

د مورچل وږمي

شهید جومات...!!

مظلوم کوچی

زما دچم هره کوڅه شهیده
جومات شهیداو مدرسه شهیده

پکي محفوظ ستامبارک کلام و
یاربه شوه هغه سینه شهیده

ماشوم بچی د دهشتگر په نامه
دالقاعده په تور قاعده شهیده

هغه گلاب هغه وړوکی طالب
دگرانې مور دزړه ټوټه شهیده

امام ممبر دواړه په وینو رنگ وو
هم د جومات وه میناره شهیده

هره غزل په وینو رنگ "مظلومه"
ځکه قلم او کتابچه شهیده

د فدایي مینه

حسینی مختار

مجنون گریوان شکاوه په دشتو اوجگو غرو په څوکو
زه مې ځیگر شکوم جانانه ! دبرچو په څوکو

ستاد جمال او د جلال په امتزاج کې اشنا !
مست مست روان یمه وردانگم د لمبو په څوکو

د مدینې جانانه ! ستاد سپین جبین وړانگو کې
ځم له پتنگ نمبرگټمه د وزرو په څوکو

زه د دجال داور دوزخ ته په خندا وردانگم
ستا د مهدي لشکرته درومم د چړو په څوکو

جانانه ! ستا د نور معراج ته په لمبو ورخیژم
کړه مې منظور دوینو څاڅکي دلیمو په څوکو

د(حسیني مختار)هم څو هیلې دروړم جانانه !
چې مو کوثرکې حشر و شي د وږمو په څوکو

ښېرا

احمد بریالی

زمونږ نظام دې راچپه کړ ستا نظام دې سر چپه شي
زمونږ دې ورانه ځالګی کړه ستا محل دې لولپه شي

ستا جادو غرور دې مات شي په عصا د موسی ' ستړي
هر یو سیند در ته قلزوم شي تاته هر رباط څپه شي

د قدم منزل د شي خاک شي ارادې شي نرمې ویلي
ستومانۍ دې د سر بار شي چې پرلار نفس خپه شي

پل دې پاته په پایخه ي هر کنډو د بلا خوله شي
زمونږ دې اوښکي سمندر شي ستا دې کور د خاک تپه شي

ستا مسکن دې زلزله شي ستا پر خونه دې ناورین شي
ستا وطن دې کنډوا له شي ستا پر بنار دې بادلپه شي

زمونږ دې صبر بریالی شي ستا دې هیله زنداني شي
زمونږ دې خوند د خولې درست شي ستا نصیب زهر کپه شي

 # ابراهیم صیاد

درځ شو چې کور او کلي اور واخیست
ژوند له مظلوم ظالم په زور واخیست

د خپل تربور د لاسه کیږی پر ما
د وخت کافر رانه زوړ پور واخیست

وینې او اوښکې سره ګډه تللې
چا له مورکۍ د سترګو تور واخیست

یوې خورکۍ په چیغو چیغو ویل
خدایه له ما څخه یې ورور واخیست

د ماشومانو په سینو خښې وې
ګرمو چرو له ستونو شور واخیست

صیاد له غم پسې غمونه وینم
غم مې له زړه د غمو زور واخیست

۲۰۱۸ زکال

د مـــارچ د میاشتې جهادي خبرونه

دټرمپ دستراتيژي عملي بېلګې

MORCHAL

Islamic, Jihady, Educational
and Cultural Monthly Journal